مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۱/۱۱/۱۱

# مسئول

که زه ډیر یم، لړ خو ته هم ملامت یی
دا ځلوینت کاله، اخته په شرارت یی

خلک مخ ته ځی، ته شاته کشوی مونږ
ولی دومره لوی دښمن د دي ملت یی؟

زړه دی کرکې نه ډک کړی سرله بوسو
جوړد قهر، له غضب او له دهشت يي

یو بادارنه شوی آزاد، بل ته ګونده شوی
نازل شوی په خپل کور، لکه آفت یی

بی له تانه هم، ژوندی د اسلام دین دی
فکر مکړه چی حافظ، د ټول اُمت یی

په خپل لاس نړی، د ځان دښمنه نکړی
ته هم غړی د لوی کور، دانسانیت یی

وطنوال دی لکه ته، ټول انسانان دی
په عزت د نورو، خپله با عزت یی

کلیوال دی نړیوالو ته په سوال دي
اوس چی مشریی، مسؤل يي دحالت یی.

اکتوبر/۲۰۲۱/۱۴
تورنتو - کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ